**يوناما د پوهاند ربانی وژنه غندي**

**کابل، د سپتمبر د مياشتی ۲۰، کال ۲۰۱۱ -** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوي (يوناما) د افغانستان پخوانی ولسمشر او د سولې د عالی شورا د مشر پوهاند برهان الدين ربانی او له ده سره د نورو همکارانو په وژنې ډير دردېدلی او خواشينی دي.

د افغانستان د سولې او بيا يو ځاي کونې د پروګرام د ګډی دارلانشاء د مشر محمد معصوم ستانکزی په ګډون نور ډير کسان ژوبل شوي دي. يوناما د دوي د عاجلی روغتيا په هيله ده.

يوناما دغه بريد پر هغو باندی چی افغانستان کی د سولې د راوړو لپاره کار کوي په کلکه سره غندي او د اغيزمن شويو وګړو کورنيو ته د خپلی همدردي مراتب څرګندوي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عمومی منشی ځانګړي استازي ستفان دی ميستورا وويل : د سولې لپاره لټه بايد دوام ومومي. مونږ پوهيږو چې د پوهاند ربانی په مشری هڅی چې افغانستان ته يې سوله راوړله په دي ځاي کې نه ختميږي او يوناما به له دغو هڅو سره خپلو مرستو ته ادامه ورکړي.

---